د افغانستان اسلامي امارت

د ارشـــــاد، حـــج او اوقافـــــو وزارت

د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست

دجمعې ورځې د خطابت موضوع او

لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو

ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

۱/ شوال المکرم /۱۴۴۷ هــ، ق مطابق ۲۹/ حوت/۱۴۰۴هــ، ش

# د قبول شوو روژو نښې او علامې، او د پاتي شوو روژو د قضاء راګرځولو او کفارې اداء کولو بیان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله رب العالمين، أرسل رسوله بالهدى ودين الحق ليظهره على الدين كله ولو كره المشركون، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله، جاهد في الله حق جهاده، بالقلب واللسان وبالسيف والسنان حتى أتاه اليقين، وأقرالله عينه بنصرة الدين، اللهم صل وسلم عليه وعلى سائرالمسلمين، أما بعد:قال الله سبحانه وتعالى: (إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ)المائدة:(۲۷)
وقال تعالى: (وَمَنْ كَانَ مَرِيضاً أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ)البقرة: (۱۸۵)

**درنو حاضرینو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

الحمد لله چې الله تعالی مونږ ته توفیق راکړ چې د رمضان المبارک میاشت روژې مو ونیولې او بیا یې ددې توفیق راکړ ، چې د رمضان المبارک په شپو کې مو د امام سره د تراویح لمونځونه وکړل.
او دالله تعالی څخه امید لرو چې زمونږ روژې به یې په خپل دربارکې قبولې کړي وي، ځکه کله چې مسلمان کوم عبادت وکړي بیا داسې دعاء کوي : (رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ). او مونږ د خپل کریم او رحیم ذات څخه دا امید ساتو چې زمونږ روژې، تراویح او نور مالي عبادات به یې په خپل دربار کې قبول کړي وي.
له بلې خوا ددې څخه هم ویره لرو چې د کوم خلل او کمي په وجه به زمونږ روژې یا نور عبادت قبول شوي نه وي ؛ځکه چې ایمان د خوف او رجاء ترمنځ دی.
حافظ ابن رجب رحمه الله وایي: (قد كانوا يجتهدون في إتمام العمل وإكماله وإتقانه، ثم يهتمون بعد ذلك بقبوله، ويخافون من ردِّه، وهؤلاء الذين ذكرهم الله تعالى في القرآن، فقال تعالى: (وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ). المؤمنون:(٦٠)
ژباره:او هغه کسان چې ورکوي هر هغه چې ورکوي یې دوی ( له زکاتونو او خیراتونو)حال داچې زړونه د دوی ویریدونکي دي( له نه قبلیدونه،ځکه چې) بیشکه دوی رب خپل ته ورتلونکي دي.
روي عن علي رضي الله عنه قال : كونوا لقبول العمل أشد اهتماما منكم بالعمل ألم تسمعوا أن الله عز و جل يقول :( إنما يتقبل الله من المتقين) المائدة: (۲۷)
قال ابن دينار : الخوف على العمل أن لا يتقبل أشد من العمل. و قال عبد العزيز بن أبي رواد : أدركتهم يجتهدون في العمل الصالح فإذا فعلوه وقع عليهم الهم أيقبل منهم أم لا قال بعض السلف كانوا يدعون الله ستة أشهر أن يبلغهم شهر رمضان ثم يدعون الله ستة أشهر أن يتقبله منهم خرج عمر بن عبد العزيز رحمه الله في يوم عيد فطر فقال في خطبته :

أيها الناس إنكم صمتم لله ثلاثين يوما و قمتم ثلاثين ليلة و خرجتم اليوم تطلبون من الله أن يتقبل منكم كان بعض السلف يظهر عليه الحزن يوم عيد الفطر فيقال له : إنه يوم فرح و سرور فيقول : صدقتم و لكني عبد أمرني مولاي أن أعمل له عملا فلا أدري أيقبله مني أم لا ؟) لطائف المعارف (١ / ٢٣٢)

ژباړه: مخکني (علماء او مسلمانان) وو چې کوښښ به يې کولو د عمل په اتمام، اکمال او د هغې په محکم تيا کې، بيا وروسته به يې اهتمام کولو د عمل د قبليدو په باره کې او ويريدل به د(نيک) عمل د مسترد کيدلو څخه او دا هغه خلک دي چې الله تعالی په قرآن کې ورڅخه يادونه کړې ده او فرمايلي يې دي: (وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ).

المؤمنون:(٦٠)

د حضرت علی کرم الله وجهه څخه روايت دی ، هغه وفرمايل: شئ د عمل د قبوليدو په باره زيات اهتمام کوونکی نسبت عمل انجامولو ته ! آيا تاسو نه اورئ چې الله تعالی فرمايلي دي:( بيشکه قبلوي الله تعالی(نيک عمل) له متقيانو څخه.

مالک بن دينار رحمه الله به ويل: د (نيک) عمل د نه قبلدو ويره ډيره سخته ده د عمل د انجامولو څخه.

عبدالعزيز بن ابي رواد مشهور تابعي وايې: ما مخکني خلک (صحابه کرام او تابعين) موندل چې د نيک عمل په کولو کې به يې کوښښ کولو او کله به يې چې نيک عمل وکړ، نو دوی ته بيا ددې هم او غم پيدا شو چې آيا (دغه نيک) عمل به ددوی څخه قبول شي او که نه؟

ځينو سلفو علماوو ويلي دي: مخکنو خلکو(صحابه وو ) به د الله تعالی څخه شپږ مياشتې مخکې دا دعاء غوښتله چې( الله تعالی دې) دوی ته د رمضان المبارک مياشت راورسوي او بيابه يې شپږ مياشتې د الله تعالی څخه دا دعاء غوښتله چې د رمضان المبارک روژې ورڅخه قبولي کړي.

يو ځل حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله د اختر په ورځ راو وتلو (د اختر لمانځه ته) په خطبه کې يې خلکو ته وفرمايل: ای خلکو! تاسې ديرش ورځې روژه ونيوله او ديرش شپې مو قيام وکړ او نن ورځ راووتلی د الله تعالی څخه غواړی چې دا درڅخه الله تعالی قبول کړي . همدا راز ځيني سلف (علماء او خلک) ؤ چې هغوی به غمجن ليدل کېده د اختر په ورځ کې . نو چا به ورته وويل: بيشکه دا خوشحالی ورځ ده ، نو هغه به ورته وويل: تاسې رښتيا وايې؛ مگر زه بنده يم ماته زما مولا امر وکړ چې زه هغه لره يو عمل وکړم(روژه ونيسم) ، نو نه پوهيږم چې زما څخه به يې قبول کړي او که نه؟

حافظ ابن کثير رحمه الله ددې آيت :(وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ) په تفسير کې وايي: يعنې دوی خيرات ورکوي خو دوی ويريږي چې دا به ددوی څخه قبول نشي ، ځکه دوی ددينه ويريږي چې شايد دوی د عطاء په شروطو کې تقصير کړی وي او دا ويره ددوی د وجې داحتياط څخه ده. لکه چې امام ترمذي د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت نقل کړی دی چې هغې وويل: ای د الله رسوله ! دالله تعالی د دې قول څخه مراد (وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ)، هغه کس دی چې غلا کوي او يا زنا کوي او يا شراب څښي او بيا دالله تعالی څخه ويريږي؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل: نه! ای د صديق لورې. دوی هغه کسان دي چې لمونځونه کوي او روژې نيسي او خيراتونه ورکوي او دوی ويريږي چې ددوی څخه به دغه (اعمال) قبول نشي. تفسير ابن کثير / دار طيبة (٥/ ٤٨٠)

د عبدالله بن مســعود رضي الله عنه څخه روايت دی ، چې هغه به ويل:(من هذا المقبول منا فنهنئه و من هذا المحروم منا فنعزيه) لطائف المعارف - (١ / ٢٣٢)

ژباړه: په مونږ کې هغه څوک دی چې دهغه عمل (روژه ) قبول شوی ده، چې مونږ ورته مبارکي ورکړو او هغه څوک دی په مونږ کې چې د (رمضان) له برکته محروم دی چې ورته تعزيه وکړو.

**د قبول شوو روژو نښې او علامې:** قبول شوې روژې ځینې نښې او علامې لري ، چې علماء کرامو په لاندې توګه بیان کړې دي:

**۱-د رمضان المبارک د میاشتې په شان په نیکیو او عباداتو همیشه والی.** د رمضان المبارک د میاشتې د تیریدو څخه وروسته ځینې خلک ځانته او نیکیو ته شا واړوي او د مسجد سره علاقه ختمه کړي، چې دا کار د ناوړې خاتمې معنا لري او د چا څخه چې الله تعالی روژې قبولې کړي، هغه ته الله تعالی د نیکیو او عباداتو په کولو د همیشه والي توفیق ورکړي. د قبول شوو روژو نښه او علامه داده چې د رمضان المبارک په تیریدو سره د انسان په طاعت او عبادت کې کوم توپیر نه راځي او لکه د پخوا په څیر نیکیو ته، عبادت ته او صدقاتو ته توجه کوي . او انسان باید داسې فکر وکړي چې مسلمانان د فرضي عباداتو او طاعاتو په کولو تر مرګ پورې مکلف دي.لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:( وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ) الحجرات:(۹۹) ترجمه: او عبادت کوه د رب خپل ترڅو چې راشي تاته مرګ.حافظ ابن رجب رحمه الله وايي: ځینو علماوو ویلي دي څوک چې کوم عمل وکړي او د هغې وروسته نور نیک عملونه وکړي ، نودا د مخکني نیک عمل د قبلیدو علامه ده. او څوک چې کومه نیکي او کوم عبادت وکړي او د هغې څخه وروسته بدی ته مخه کړي او هغه سلسله ختمه کړي ، نو دا ددې علامه ده چې د هغه مخکنی نیک عمل د الله تعالی په دربارکې نه دی قبول شوی. اللطائف - (۱ / ۲٤٤)

د قبول شوو روژو ښکاره نښه او علامه داده چې د رمضان المبارک له تیریدو وروسته روژه دار شخص به د سنتو او مستحبو روژو ، لکه د شوال شپږ روژې، د ددوشنبې او پنجشنبې ورځو روژې ، د ایام البیض روژو زیات خیال ساتي او هغه نیسي .همدارنګه د تهجدو په لمونځ باندې به اهتمام کوي او خپل سخاوت ته به دوام ورکوي او که چیرې چا د رمضان تیریدل غنیمت وګڼلو ، نو بیا دده د روژو د قبلیدو په اړه هیڅ بشارت نشته.

**۲-رښتنی توبه ويستل او الله تعالی ته رجوع کول.** د رمضان المبارک په میاشت کې د توبې دروازې برسیره کیږي او دالله تعالی خصوصي رحمتونه په روژه دارانو وریږي او شیطانان تړل کیږي ، نو چاته چې الله تعالی د رښتینې توبې توفیق ورکړ او خپل رب ته يې رجوع وکړه او نیکیو ته يې مخه کړه او ګناهونو ته يې مخه نکړه او له ګناهونو څخه منع شو، نو دا ددې علامه ده چې دده روژې او عبادات الله تعالی قبول کړې دي. خو که څوک په روژه کې د الله تعالی سره وعده وکړي چې نور به ګناه نه کوم او د روژې له تیریدو سره ګناه کول کوم باک نه ګڼي او د روژې څخه مخکې ناوړه او بدو عادتونو ته دوام ورکړي ، داددې علامه ده چې دده روژې او عبادت نه دي قبول شوي.

**۳-د فرائضو او نوافلو په اداء کولو حرص کول.** رمضان المبارک په لمونځونو د رياضت مياشت ده. په رمضان المبارک کې روژه دار تل کوښښ کوي چې په وخت لمانځه ته ولاړ شي او کوښښ کوي چې په دې میاشت کې نوافل زیات وکړي ، کله چې رمضان المبارک تیرشي او دغه روژه دار لکه د روژې د میاشتې په فرایضو او نوافلو باندې زیات حریص وي، نو دا د روژو د قبلیدو نښه ده او که چیرې چا په روژه کې د فرائضو اهمیت ونه پیژندلو او د نوافلو یې هیڅ خیال نه ساتلو او د روژې په تیریدو سره د فرضي لمونځونو او نفلي لمونځونو په اړه بې تفاوته وي او دلمونځونو هیڅ اهتمام نه کوي، نو دداسې شخص د روژې د قبلیدو، ددې امکان ډیر زیات دی چې دده روژه به نه وي قبوله شوې.

**۴-د قرآن کريم سره علاقه ساتل.** رمضان المبارک د قرآن کريم مياشت ده. قرآن کريم په کې نازل شوی دی، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:(شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنْ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ) البقرة: (۱۸۵)

ترجمه: مياشت د روژې هغه مياشت ده چې نازل کړی شوی دی په دې کې قرآن چې هدايت دی لپاره د خلقو او دليلونه دي ښکاره (له جنسه د هغو شيانو) چې هغه لاره ښيي او بېلوونکی د حق او باطل دی .

د همدې امله مسلمانو به په روژه کې د قرآن کريم سره زياته علاقه ساتله ، قرآن کريم به يې تلاوت کولو، په قرآن کريم کې به تدبر کولو او ځان به يې ور باندې پوهولو. که چيرې څوک د رمضان المبارک څخه وروسته هم د قرآن کريم سره د تير  په شان علاقه وساتي او قرآن کريم د ځان ملگری وگرځوي ، نو دا دده د روژو د قبليدو  علامه او نښه ده او چاچې د رمضان المبارک څخه وروسته  قرآن کريم  ته شا واړوله او د هغې تلاوت يې پريښودلو ، نو دا دده د کمزورو روژو دليل دی او که الله تعالی فضل او کرم ونه کړي ، نو دداسې شخص د روژو د قبليدو اميد ډير کم دی؛ ځکه چې د هغه چا په اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم به د قيامت  په ورځ د قرآن کريم له خوا الله تعالی ته شکايت وکړي چې فلاني شخص قرآن کريم ترک کړی ؤ او هغه ته يې اهميت نه ور کولو او  قرآن کريم ته به يې وخت نه ورکولو، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: (وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورا) الفرقان:( ۳۰)

ترجمه: او ويل رسول الله ( د الله محمد)ای ربه ځما! په تحقيق قوم ځما نيولی دی دغه قرآن ترک کړی شوی(چی نه پرې ايمان رواړي، او نه پرې عمل کوي، او نه يې لولي).

**۵-په ژبه بر لاســی موندل.** روژه مسـلمان ته ددې درس ورکوي ، چې په روژه کې به خپله ژبه له غيبت، چغل خوری، نميمت ،درواغو ، فحش ويلو څخه ساتي .ځينې کسان په روژه کې په خپله ژبه برلاسي شي او خپله ژبه په کنترول کې راولي او کله چې روژه خلاصه شي ، نو دده ژبه دده په واک وي او له ناجائزو ويناوو څخه ساتي، چې دا ددې علامه او نښه ده چې دده روژې د الله تعالی په دربار کې قبولې شوي دي. نبي عليه السلام فرمايلي دي: «مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ» صحيح البخاري ت (٤/ ٥٧٨)

ژباړه: څوک چې درواغ ويل او بهتان تړل پری نږدي او په دې عمل کول پری نږدې ، نو الله تعالی ته ددې حاجت نشته چې (روژه دار) پريږدي خوراک خپل او څښاک خپل.

په پورتني حديث کې اشاره ده چې څوک په روژه کې د ژبې گناهونه پريږدي ، دده روژه به مقبوله وي.

**د پاتي شوو روژو د قضاء راگرځولو او کفارې اداء کولو بيان.**

الله جل جلاله فرمايلي دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ. أَيَّاماً مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضاً أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْراً فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ} البقرة:(۱۸٤)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنان!)فرض کړی شوې ده په تاسې باندې روژه لکه چې فرض کړی شوې وه په هغو کسانو چې پخوا له تاسې څخه وو(لکه پخواني امتونه او پيغمبران ترآدمه پورې).لپاره د دې چې تاسې ځان وساتئ (له گناهونو څخه او پرهيزگاران شئ ځکه چې روژه د شهواني قوې ماتوونکې ده).يو څو ورځې شميرلې شوې (لږ چې در رمضان۲۹ يا ۳۰ورځې دی).پس هر څوک چې وې له تاسې څخه ناجوړ يا وې په سفر(او روژه وخورې) نو پر ده باندې لازم دي روژه نيول په شمار( دخوړليو شويو ورځو) له ورځو نورو.او په هغه کسانو باندې چې روژې نيول طاقت نه لري فديه ورکول دي،(يا)او په هغو کسانو باندې چې د روژې نيولو طاقت لری فديه ورکول دي( او دا حکم په اول کې وو بيا منسـوخ شـو)طعام ده يوه مسـکين( د يوې روژې په برابری.پس هر څوک چې پخپله خوښـه( زيادت) وکړي کومه نيکي کې،نو دغه بهتره ده ده لره.او روژه نيول ستاسی سره د افطارله رخصته )ډير بهتر دي تاسې ته ( له خوړلو څخه) که چيرې يئ تاسې چې پوهيږئ( د روژې په فضيلت).

په رمضان المبارک کې ځينې خلک روژه د عذر په بناء خوري او ځينې خلک روژه پرته له عذره قصداً ماتوي، چې د هر يو شخص لپاره په شريعت کې ځانگړي ځانگړي احکام دي.

**الف: په عذر سره د روژې د خوړلو حکم:**

څوک چې په شرعي عذر سره روژه ماته کړي، يواځې د روژې قضايي به راوړي.

شرعي عذرونه په لاندې توګه دي:

۱-مرض: مرض يو له هغو شرعي عذرونو څخه دی، چې له امله يي د روژې خوړل جائز دي؛ که چيرې څوک د روژو په سر کې يا منځ کې مريض شي او روژې يي نه شوی نيولای، يا دا چې مسلمان حاذق ډاکتر ورته وويل چې روژې مه نيسه ، داسې شخص کولای شي روژې وخوري؛ خو چې کله د روژې مياشت تيره شوه او روغ شو د تيرو شوو روژو قضايي به راوړي.الله تعالى فرمايلي دی:}وَمَنْ كَانَ مَرِيضاً أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ{البقرة:( ۱۸۵)

ترجمه: او څوک چې مريض وي او يا په سفر کې وي( او روژه يي ماته کړه) هغه دې بيا دروژو شمير پوره کړي. يعنی قضايي دې راوړي) الله جل جلاله په تاسو اسانتيا راوستل غواړي او سختي راوستل نه غواړي ( دا قضايي ددې لپاره لازم شوی ده) چې تاسو د روژو حساب پوره کړی.

امام ابو بکرجصاص ددې آيت شريف په تفسير کې وايي: (فابتدأ تعالى بيان حكم المريض والمسافر وأوجب عليهما القضاء إذا أفطرا ) أحكام القرآن للجصاص

ترجمه: الله تعالى د مريض او مسافر د روژو دحکم په بيانولو پيل وکړ او په دوی يي قضايي راوړل فرض کړل چې کله روژه وخوري.

که څوک مريض شو او ويريده چې مرض به يي زيات شي او يابه يي مريضي- طولانی شي کولای شي چې روژه وخوري اووروسته يې قضايي راوړي.(الجوهره)

کوم کسان چې د شرعي عذر په بناء روژه وخوري، دوی ته په کارده چې کله روغ شي دبل رمضان څخه مخکې دې د خوړل شوو روژو قضايي راوړي.

بناءً که چيرې هغه مريض چې د مرض له امله يي روژې خوړلی وي روغ نه شو او دهمدغه مرض په دوام کې وفات شو په ده باندې دخوړل شوو روژو دفديې ورکولو وصيت لازم نه دی.

همدا راز که چيرې هغه مريض چې روژې يي خوړلي دي او وروسته صحت ياب شو او روژې يي ونه نيولی، تردې چې وفات شو په ده باندې د خوړل شوو روژو دفديې وصيت لازم دی. که چيرې وصيت يي ونه کړ ورثه او يا وصي هم کولای شي دده دميراث دثلث څخه دهغه د روژو فديه ورکړي.(الهدية العلائية لعلاء الدين ابن عابدين)

۲-سفر: سفر هم د هغه شرعي عذرونو له جملې څخه دی چې له امله يي د روژو ماتول جواز لري. که څوک په سفر ووتلو او دسفر اندازه يي اتيا اويا( ۷۸ ) کيلو متره وه، کولای شي چې روژه وخوري او کله چې د روژې مياشت ووزي بايد د خوړل شوو روژو قضايي راوړي. البته په سفر کې روژه نيول افضل دي.

۳-حيض او نفاس: حيض او نفاس هم د شرعي عذرونو له جملې څخه شـميرل کيږي. په کومه زنانه چې حيض راشي او يا د روژې په مياشت کې ورته نفاس پيدا شو ، روژه دې ماته کړي او کله چې د روژې مياشت ووتله او له حيض او يا نفاس څخه پاکه شوه د خوړل شوو روژو قضايي دې راوړي.ځکه طهارت دحيض او نفاس څخه دروژې له شرطونو څخه ده؛ لکه څرنګه چې لمونځ دحيض او نفاس سره جواز نلري ، روژه هم دحيض او نفاس سره جواز نه لري.(تحفة الفقهاء)

۴-حمل او ماشوم ته شيدې ورکول: دهغه شرعي عذرونو له جملې څخه چې روژه ماتول ورته جواز لري او يواځې قضاء راوړل يې ضروري دي ، د زنانه حمل(بارداري) او يا هم کوچني ته شيدې ورکول دي.

که چيرې د کومې زنانه په خيټه حمل وي او په دې ويريږي چې که چيرې روژه ماته نه کړي په غالب گمان سره او يا ورته حاذق مسلمان ډاکټر ووايې چې د روژو په نيولو سره ځان او يا ماشوم ته يې ضرر پيښيږي، کولای شي چې روژه ماته کړي او د روژې د مياشتې څخه وروسته يې قضايي راوړي.

همدا راز هغه زنانه چې ماشوم ته شيدې ورکوي او دا په تجربه ثابته شوي وي چې په دغسې حالت کې روژه ماته نه کړي شيدې يې کميږي اويا وچيږی او ماشوم ته يې ضرر پيښيږي، داسې زنانه کولای شي چې روژه ماته کړي او وروسته يې يواځې قضايي راوړي. په حديث شريف کې راځي:( إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى وَضَعَ عَنِ الْمُسَافِرِ الصَّوْمَ، وَشَطْرَ الصَّلَاةِ، وَعَنِ الحَامِلِ أَوِ المُرْضِعِ الصَّوْمَ) سنن الترمذي

ترجمه: بيشکه الله تعالی ساقطه کړی ده روژه او نيم لمونځ د مسافر څخه او له حاملې او شيدی ورکونکې زنانه څخه روژه.

په دې موضوع کې د مريض، حاملې زنانه او شيدې ورکونکې زنانه هغه غالب گمان معتبر دی چې په تجربه، علائمو او يا د مسلمان ماهر طبيب په مشوره باندې بنا وي او يواځې وهم نه وي.(الهنديه)

۵- هغه شخص چې په روژو کې بې هوشيورباندې راغله او بيا صحت ياب شو، يواځې دقضاشوو روژو قضايي به راوړي؛ خو دهغه ورځې روژې قضاءورباندې نشته چې په کې بې هوشه شوی دی او روژه يې نه ده ماته کړي. (الهدية العلائية)

**دشيخ فاني د روژو حکم:**

شيخ فاني: هغه څوک چې د زيات عمر له امله  د روژو د نيولو توان نلري او د هرې ورځې په تيريدو سره کمزوری کيږي؛ آن داچې وفات شي، په فقهي اصطلاح کې ورته شيخ فانی ويل کيږي.(الهنديه)

شيخ فاني کولای شي چې روژه ماته کړي او دهرې روژې په عوض کې د صدقة الفطر په اندازه غله يا دغلې قيمت مسکين او يا فقير ته ورکړي. شيخ فاني کولای شي چې د ټولو روژو فديه د رمضان المبارک په پيل کې ورکړي او دا هم جائزده چې د رمضان المبارک مياشت په اخر کې فديه ورکړي. که چيرې شيخ فاني دفديي ورکولو څخه وروسته په روژو نيولو قدرت پيدا کړ، ماتې شوی روژې به ټولې نيسي او فديه له منځه ولاړه. (الهنديه)

**ب: هغه حالتونه چې څوک په کې پرته له عذره روژه ماته کړي او يواځې د روژې قضايي راوړل ورباندې لازم دي.**

داسې حالتونه شته چې پرته له عذره روژه په کې ماته شي ، نو په ځينو حالتونو کې يواځې د روژو قضايي راوړل کيږي   او په ځينو حالتونو کې د روژې قضايي ترڅنگ کفاره هم ورباندې لازميږي. ددی خبری تفصيل په لاندې توگه دی:

۱-دغيرغذايي توکو خوړل: که څوک پرته له عذره روژه په داسې شيانو ماته کړي چې عادتاً هغه غذا نه وي او دوا هم نه وي ، روژه يې ماتيږي قضايي به يې راوړي او کفاره ورباندې نشته. لکه دتيږو خوراک، د زړيو تيرول ، او د عادي خاورو خوراک.البدائع  (۲/ ۹۹(

۲ــ قصداً قی کول: په قصدي توگه قیء کولو سره روژه فاسديږي. چاچې په زوره په قصدي توگه په ډکه خوله قیء وکړ، يواځې د روژې قضايي به راوړي. رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي:«مَنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ فَلَيْسَ عَلَيْهِ قَضَاءٌ وَمَنْ اسْتَقَاءَ عَمْدًا فَلْيَقْضِ». الترمذي (۳/ ۹۸)

ژباړه: چاته چې ورغی قیء (بې اختياره او قیء يي وکړ)، نو نشته په ده باندې د روژو قضايي او چاچې قصداً قیء وکړ، د روژې قضايې را وړل ور باندې لازم دي.

۳- که چيرې په خطا سره د مضمضې پر وخت اوبه داخل ته لاړې، يواځې د روژې قضايي به راوړي ( نور الإيضاح).

۴-که چیرې چا د صبح صادق ختلو څخه وروسته په دې عقیده څه وخوړل، چې صبح صادق ندی داخل شوی او یاپې روژه ماتی په دې عقیده وکړ چې ماښام وخت داخل دی، په دواړو صورتونو کې روژه به ساتي او یواځې د روژې قضایي به راګرځوي. (الهدایة)

۵-که چیرې چا د لمر په پریوتو کې یې شک درلود، ده ته جائز نه ده چې روژه ماته کړي؛ ځکه د ورځې شتون یقیني دی او دلمرپریوتل ګماني دي او دیقین په مقابل کې ګمان ته اعتبار نشته او که چیرې روژه یې ماته کړه او ښکاره شوه چې غروب نه دی شوی ددغې ورځې قضایي به راوړي او کفاره ورباندې نشته.(الهدایه)

**ج:د کفارې د لازمیدو شرطونه:**

۱-روژه دار به مکلف وي.

۲-په رمضان کې به یې د شپې له خوا د روژې نیت کړی وي.

۳-د روژې څخه مخکې به داسې څه نه وي واقع شوي، چې له امله یې روژه خوړل ورته روا وي لکه سفر؛ مرض، حیض او نفاس.

۴-په خوښه به روژه خوړلی وي او اکراه به نه وي.

۵-روژه به یې په قصد او عمد سره خوړلی وي. که چیرې په هیره یې روژه وخوړله کفاره ورباندې نشته.

٦-په خطاء سره به یې روژه نه وي خوړلی او نه به د اضطرار حالت ولري؛ ځکه که په خطا او د اضطرار په حالت کې روژه وخوړله کفاره ورباندې نشته یواځې د روژې قضایي به راوړي.

کله چې دا ټول شرطونه موجود شي او د لاندې حالتونو څخه یو حالت پیښ شي؛ نو کفاره او قضاء دواړه لازمیږي .

د دې وروسته اوس وګورو چې هغه کوم شیان او صورتونه دي چې په هغه سره روژه فاسده کیږي او د هغه په وجه کفاره او قضاء دواړه لازمیږي.

**د-هغه حالتونه چې د روژې قضایې اوکفاره ورکول دواړه په کې فرض وي:**

که چیرې چا په لاندې کړنو باندې روژه قصداً ماته کړه د روژو قضایي به راوړي او کفاره به هم ورکوي.

۱-په قبل یا دبر کې جماع کول.که چیرې څوک د رمضان په روژو کې په داسې حال کې د خپلې ښځې سره په ورځ کې کوروالی وکړي چې روژه ورته یاده وي ، نو روژه یې باطله او کفاره پرې واجبه ده .

۲-قصداً خوراک یا څښاک کول.که څوک په رمضان کې په قصد سره خوراکي شیان وخوري او یا دڅښلو شیان وڅښي روژه یې ماته شوه ددغې روژې به هم قضایي راوړي او هم به کفاره ورکوي.

حنفي فقهای کرامو د هغو خوراکي شیانو لپاره یوه جامع ضابطه ذکر کړې ده چې روژه ورباندې ماتیږي او په خوړلو یې کفاره لازمیږي. فقهاء کرام وایي دغذایي او دوایي توکو شیانو په استعمال روژه ماتیږي.په فتاوی عالمګیري کې راځي:(إذَا أَكَلَ مُتَعَمِّدًا ما يُتَغَذَّى بِهِ أو يُتَدَاوَى بِهِ يَلْزَمُهُ الْكَفَّارَةُ) الفتاوى الهندية (١/ ٢٠٥)ترجمه: کله چې په قصدي توګه غذایي توکي او یا دوا وخوري کفاره ورباندې لازمیږي.

امام ابن عابدین د غذایي او دوایي توکو په تشریح کې لیکي: (مُرَادُهُمْ بِمَا يَتَغَذَّى بِهِ مَا يَكُونُ فِيهِ صَلَاحُ الْبَدَنِ بِأَنْ كَانَ مِمَّا يُؤْكَلُ عَادَةً عَلَى قَصْدِ التَّغَذِّي أَوْ التَّدَاوِي أَوْ التَّلَذُّذِ). حاشية رد المحتار (٢/ ٤٥١)

ترجمه: د فقهاوو دغذایي شیانو څخه مراد هر هغه څه دی چې دبدن دصلاح لپاره وي، داسې چې عادتاً د تغذیې، تداوۍ او یا دلذت اخیستلو په غرض خوړل کیږي. چیرې

۳-: که ناپوهه شــخص د حجامت لګولو یا د بریتو غوړولو، یاغیبت کولوڅخه وروســته روژه په دې فکر وخوري چې روژه یې په غیبت، حجامت ... سره ماته شوی ده، په دې صورت کې به ددې روژې قضایي هم راوړي او کفاره به یې هم ورکوي. ځکه پرته د موجه دلیل په تش ګمان باندې یې روژه ماته کړی ده.(الهدیة العلائیة)

**هـ-د کفارې اندازه او ترتیب:**

هغه څوک چې پرته له کوم شرعي عذر څخه په رمضان المبارک کې خوراک، څښاک اویا د خپلې ښځې سره کوروالی وکړي، علاوه ددې چې د روژې قضایي به راوړي دکفارې په ورکولو هم مکلف دی.

د کفارې ورکول په دې ترتیب سره ده ، چې په لومړي پړاو کې دیو غلام آزادول دي، که چیري د غلام د آزادولو وس او قدرت یې نه درلود په دوهم پړاو کې به دوه میاشتی پرله پسی روژې نیسي او که چیرې د دوه میاشتو روژو د نیولو څخه عاجز ؤ ، په دې صورت کې ورباندې لازم دي چې (٦٠) شپیتو مسکینانو ته دوه وخته په مړه خیټه ډوډۍ ورکړي او که شپیته مسکینانو ته د نیمه پیمانه (یوه کلو او نهه سوه ګرامه) غنم یا دغنمو اوړه ورکړي او یا دې ورته ددې اندازې غنمو پیسې ورکړي هم صحیح ده.(نورالایضاح)

دابوهریره رضی الله عنه په هغه طولاني حدیث کې داسې راځي:«بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلَكْتُ قَالَ مَا لَكَ؟ قَالَ وَقَعْتُ عَلَى امْرَأَتِي وَأَنَا صَائِمٌ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تَجِدُ رَقَبَةً تُعْتِقُهَا قَالَ لَا قَالَ فَهَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تَصُومَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ قَالَ لَا فَقَالَ فَهَلْ تَجِدُ إِطْعَامَ سِتِّينَ مِسْكِينًا قَالَ لَا قَالَ فَمَكَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَيْنَا نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَقٍ فِيهَا تَمْرٌ وَالْعَرَقُ الْمِكْتَلُ قَالَ أَيْنَ السَّائِلُ فَقَالَ أَنَا قَالَ خُذْهَا فَتَصَدَّقْ بِهِ فَقَالَ الرَّجُلُ أَعَلَى أَفْقَرَ مِنِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ فَوَاللَّهِ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا يُرِيدُ الْحَرَّتَيْنِ أَهْلُ بَيْتٍ أَفْقَرُ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ أَنْيَابُهُ ثُمَّ قَالَ أَطْعِمْهُ أَهْلَكَ» صحیح البخاري ت (٥/ ٣٠)

ترجمه: یو وخت رسول الله صلي الله علیه وسلم سره ناست ؤ چې یو سړی ورته راغی او وه ویل: ای رسول الله!

تباه شوم پیغمبرعلیه السلام ورڅخه پوښتل څه دربانډی شوی دي؟ په ځواب کې یې وویل: هغه مهال چې روژه وم د خپلی ښځې سره مې کوروالی وکړ، رسول الله و فرمایل: آیا کوم غلام آزادولی شې؟ وه یي ویل: غلام نه شم آزادولی. پیغمبرعلیه السلام وفرمایل: آیا پرلپسې دوه میاشــتې روژې نیولای شــی؟ هغه و ویل: نه پیغمبرعلیه الســلام ورته وویل: شــپیتو مســکینانو ته ډوډۍ ورکولای شــی؟ هغه ځواب کې وویل:شپیتو مسکینانوته ډوډۍ نشم ورکولای. ابوهریره رضي الله عنه وویل: هغه سړی د رسول الله صلي الله علیه وسلم سره څه موده تم شــو، په همدی حال کې چې ناســت ؤ د خرما یوه لویه ټکری رسول الله صلي الله علیه وسلم ته راوړل شوه رسول الله پوښتنه وکړه هغه د پښتني وا لا شخص څه شو؟ هغه سړی وویل: زه دلته یم. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته و فرمایل: دا واخله او صدقه یې کړه. هغه سړي پیغمبرعلیه السلام ته وویل: آیا دا د ځان نه زیاتې فقیرې کورنی ته ورکړم ای د الله رسوله؟ په الله جل جلاله قسم چې د مدینی دواړو خواوته (ټول ښارکی) زما د کورنۍ څخه زیاته فقیره کورنۍ نشته. ( د هغه سړي د خبرو په اوریدو سره) پیغمبر صلي الله علیه وسلم دومره وخندل چې انیاب غاښونه یې ښکاره شول، بیایې هغه ته و فرمایل: داخپلې کورنۍ ته ورکړه .